# رېښتوني پاچا



ــ لنډه کیسه ــ

عبدالرشید "صمد نجاب"

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم ط

ketabton.com - The Digital Library

# ربښتونی پاچا

—— لنډه کیسه ——

ketabton.com - The Digital Library

**سرلیک:** رېښتونی پاچا ــــ لنډه کیسه ــــ

**لیکنه:** عبدالرشید"صمد نجاب"

**ترتیبوونکی:** ارسلان همت

**پښتی ډیزاین:** ارسلان همت

ketabton.com - The Digital Library

## د رېښتونې پاچا کیسه:

یوه ورځ یو پاچا له خپل دربار څخه ووت تر څو د خلکو (رعیت) له وضعیت څخه ځان خبر کړي،

د خپلو ساتونکو او درباریانو سره ګوري چې په بازار کې ډېر خلک په خپلو کارونو بوخت دي،

پاچا یو سړي ته یې وویل:

زه در څخه یوه پوښتنه لرم سم ځواب به راکړې؛

سړي وویل: ولې نه پاچا صاحب.

آیا زما پاچاهي ښه ده که بده؟؟؟

سړي د پاچا صفتونه او ستاینې پیل کړې او وې ویل چې ستا پاچاهي ډېره ښه ده...

پاچا لومړی خبرو ته یې غوږ شو؛

خو بیا خپلو ساتونکو ته یې امر وکړ چې دا سړی دروغ وایي؛

سر یې پرې غوڅ (قطع) کړئ!

پاچا لږ وړاندې لاړ او بل سړي ته یې وویل:

یوه پوښتنه در څخه لرم سم ځواب به راکړې؛

سړي وویل: سمه ده.

ketabton.com - The Digital Library

آیا زما پاچاهي ښه ده که بده؟؟؟

دې سړي د پاچا سپکې او سپورې پېل کړې او وې ویل چې ستا پاچاهي ډېره بده ده...

پاچا د دِه سړي خبرو ته هم غوږ شو؛

خو بیا یې خپلو ساتونکو ته امر وکړ چې دا سړی هم ربنتیا نه وایي؛

د ده سر هم غوځ (قطع) کړئ!

پاچا حرکت یې وکړ یو څه نور هم وړاندې لاړ...

غوښتل یې چې د درېم کس څخه پوښتنه وکړي؛

پدې وخت کې یو ماشوم چې د پاچا او د دوېم کس د خبرو لیدونکی (شاهد) وو،

پاچا ته یې په خپل نَري (کوچني) غږ سره وویل:

زه ستا په ځواب پوهېږم!

پاچا د کوچني ماشوم پدې خبره ډېر حیران شو.....!

کوچني ماشوم ته یې وویل:

ګرانه! ته چې زما د پوښتنې په ځواب پوهېږې نو ویې وایه!

ماشوم ورته وویل:

ته زمونږ د کړنو (اعمالو) پایله یې،

ketabton.com - The Digital Library

که چېرې زمونږ کړنې (عملونه) ښه وي نو ته به هم ښه یې او ستا پاچاهي به هم ښه وي،

که چېرې زمونږ کړنې (عملونه) بد وي نو ته به هم بد یې او ستا پاچاهي به هم بده وي،

د پاچا سترګې له ډېرې حیرانۍ سپینې را ووتلې...

کوچنی هلک یې ښکُل (چَپ) کړ او په غېږ کې یې ونیوُه.

خپلو ساتوونکو ته یې وویل: زه د همدې خواب په لټه کې وم،

همدا زما د پوښتنې رېښتونی او سم ځواب دی.

**د کیسې مانا او مطلب:**

د نړۍ په یوې سیمه یا هیواد کې چې کوم حاکمان او مشران واک ته رسیږي په ډېره کچه د خلکو د کړنو (اعمالو) پایله وي. په افغانستان کې هم پدې وروستېو نږدې څلور نیمو لسیزو (۴۳ کلونو) کې چې کوم حاکمان واک ته رسیدلي دي او هیواد یې اوسني وضعیت ته رسولی، زمونږ د (ملت یا خلکو) د کړنو ، د واکمنو حاکمانو رښتیا نه وېلو او خدمت نه کولو او د ملت او حکومت (دولت) د جلاوالي پایله ده. څوک د کمونسټ، څوک د خلق او پرچم، څوک د راستي او چپي، څوک د میا او د مُلا، څوک د ډیموکراټ او خراساني او اوس بیا د میا او د مُلا په نومونو واک ته رسېدلي دي؛ هیله ده له همدا اوس سمدستي او په راتلونکي کې مونږ د ملت په توګه او حاکمان د هیواد مشرانو په توګه خپلې دندې او مسئوولیتونه په سمه توګه سرته ورسوي.

**پای**

ketabton.com - The Digital Library

**یادَونه:**

که د لیکوال نور کتابونه او لیکني غوارئ ولولئ، په کتابتون ویب پاڼې کې خپاره (خپرې ) شوي دي، نو لاندې آدرسونو او لینکونو ته لاړ شئ:

**د کوید-۱۹ کرونا ویروس پټ رازونه (کتاب):**

https://ketabton.com/book/14784

**اوسني حکومت د راتګ په اړه لیکنه (کتاب بڼه):**

https://ketabton.com/book/14700

**له سود ځخه ځان، کورنۍ، ټولنه او هیواد وژغورئ (کتاب بڼه):**

https://ketabton.com/book/14848

**وروستۍ ورځ له پندَ ډکه کیسه:**

https://ketabton.com/posts/772

**د بوډا سړي کیسه:**

https://ketabton.com/posts/735

**بریالیتوب ته اړتیا:**

https://ketabton.com/posts/678

**آیا امنیت (امن) د ژوند هر څه دي؟**

https://ketabton.com/posts/648

**د نړۍ سوکاله (آرامه) هیوادونه**

https://ketabton.com/posts/636

**آیا افغانستان په اقتصادي ناورین (بحران) کې دی؟**

https://ketabton.com/posts/610

**له تاسو ټولو لوستونکو څخه ډېره زیاته مننه بریالي اوسئ!**

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*